هفته واره رساله

# د لاسونو د غټو ګوتو د ښکلولو برکتونه



د اذان په دوران کښې د غټو ګوتو ښکلولو ثواب

په څلورو موقعو ګوتې مه ښکلوئ!

د ترک عاشقانو رسول د محبت نه ډک انداز

که د ګوتو ښکلولو باوجود چا چشمې اچولې وي نو

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# د لاسونو د غټو ګوتو د ښکلولو برکتونه

دُعائے عطّار: یا **اللّٰه** پاکه! څوک چې دا رساله "د لاس د غټو ګوتو د ښکلولو برکتونه" ولولي یا واوري د هغهٔ همیشه پهٔ اذان او اِقامت کښې د ګوتو ښکلو سعادت نصیب کړې او د اخري سلګۍ پورې د هغهٔ د سترګو نُور سلامت وساتې او هغه سره د مور او پلار ه بے حسابه اوبخښې۔

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

## د بخښنې سبب دُرُود شریف

عاشقِ رسول حضرت علامه یوسف بن اسماعیل نبهاني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه لیکلي دي: (د مراکش پهٔ ښار) فاس کښې یوه عاشقِ رسول زنانه اوسیدله، پهٔ هغې به چې کله څهٔ پریشاني یا ویره راتلله نو خپل دواړه لاسونه به یې پهٔ مخ باندې کیښودل او سترګې به یې پټې کړې او وئیل به یې: مُحَمَّد (صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم)۔ (د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نوم پهٔ برکت به د هغې پریشاني ختمیدله)، کله چې هغه عاشقِ رسول زنانه وفات شوه نو یو رشته دار پهٔ خوب کښې ولیدله او پوښتنه یې ترینه اوکړه: ترور جانې! آیا تاسو پهٔ قبر کښې پوښتنې کوونکې دوه فرښتے مُنکَر نَکِیر لیدلي دي؟ اوئې فرمائیل: آؤ! هغوئي زما خوا له راغلي وو، ما د هغوئي پهٔ لیدلو د خپل عادت مطابق دواړه لاسونه پهٔ مخ باندې کیښودل او وه مې وئیل: مُحَمَّد (صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم)، کله چې ما د مخ نه خپل لاسونه لرې کړل نو هغوئي دواړو تشریف وړے وو۔ (شواهد الحق، ص 230) د اللّٰه رَبُّ العزّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي۔

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

ہے تو نام محمد سہارا اپنا اسی سے چلتا ہے گزارا اپنا
ہمیں طوفاں کی موجوں کا کچھ خوف نہیں ہم اسی نام سے پالیں گے کنارا اپنا

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰهُ علٰی مُحَمَّد

# د لاسو غتېې ګوتې ولې نهٔ ښکلوې؟

تقريباً 700 کاله مخکښې تير شوے د قرآنِ کريم مفسر حضرت شيخ نور الدِّين خراساني رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ چې د مؤذِن پهٔ اذان کښې "اَشۡهَدُاَنَّ مُحَمَّدًارَّسُوۡلُ اللّٰہِ " واوريدل نو د خپلو دواړو لاسو غتېې ګوتې يــې ښکل کړې او د دې دواړه نوکان يــې د خپلو سترګو د ښو سره ولګول کله چې پهٔ دويم ځل مؤذِن ولوستل نو بيا يــې هم داسې اوکړل، د هغوئي نه چې د دې عمل د وجهې پوښتنه اوکړے شوه نو هغوئي وفرمائيل: ما به مخکښې د لاسو غتېې ګوتې ښکلولې او د سترګو سره به مې لګولې خو بيا مې داسې کول پريښودل نو زما سترګې خرابې شوې، ما چې پهٔ خوب کښې د خوږ اخري نبي مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زيارت اوکړو نو راته يــې وفرمائيل: تا د اذان پهٔ وخت د سترګو سره د لاسو د غتېو ګوتو لګول ولې پريښودل؟ که تهٔ غواړې چې ستا سترګې ټيک شي نو بيا د لاسو د غتېو ګوتو ښکلول شروع کړه، بيا چې زهٔ رابيدار شوم او ما د لاسو د غتېو ګوتو د ښکلولو عمل اوکړو نو زما سترګې ټيک شوې او اَلۡحَمۡدُلِلّٰہ! د هغې نه پس اوسه پورې زما سترګې چرې هم نهٔ دي خرابې شوې- (حاشيه على كفاية الطالب الرباني، 170/1) د اللّٰه رَبُّ العزّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

نامِ محمد کتنا میٹھا لگتا ہے
پیارے نبی کا ذکر بھی ہم کو پیارا لگتا ہے
آؤ سنائیں اپنے پیا کو اپنے مَن کی بات
ان کے علاوہ کون نیازی اپنا لگتا ہے

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! د خوږ " مُحَمَّد " صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ نوم باندې د محبت او تعظيم سره د لاسو غتېې ګوتې ښکلول د مسلمانانو د شروع نه معمول پاتې شوے دے بلکې دا مبارک عمل د ټولو انسانانو د والدِ محترم حضرت آدم صفي اللّٰه عَلَیۡہِ السَّلَام نه هم ثابت دے او يقيناً چې سعادت مند اولاد پهٔ ښهٔ کارونو کښې پهٔ خپل والدِ صاحب پسې ځي (يعنې د هغوئي پهٔ لار روان وي)-

## حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام د لاسو غټې ګوتې ښکل کړې

درې سوه کاله مخکښې تير شوي بزرګ شيخ اسماعيل حقي حنفي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه (وفات: 1137ھ) د قرآنِ پاک پۀ تفسير "روحُ البيان" کښې ليکلي دي چې: پۀ يو روايت کښې دي چې پۀ حضرت آدم صفي الله عَلَيْهِ السَّلَام شاته به فرښتے راتللې، کله چې ترينه هغوئي پوښتنه اوکړه چې تاسو داسې ولې کوئ؟ نو ووئيلے شو چې ستاسو پۀ ملا کښې د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نُور مبارک دے د کوم چې دوئي زيارت کوي، وړاندې به دا اخري نبي راځي- حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام دُعا اوکړه: يا الله پاکه! دا نُور د شاه پۀ ځائے مخې ته کړئ چې فرښتے د وروستو نه د زيارت کولو د پاره نۀ راځي- د دې نه پس هٰغه نُور د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام پۀ تندي کښې پۀ ځليدو شو او فرښتو يې د مخې اړخ نه زيارت شروع کړو، بيا حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام د الله پاک پۀ بارګاه کښې عرض اوکړو: يا الله! زۀ هم د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نُور ليدل غواړم، داسې هٰغه نُور د هغوئي د لاسونو پۀ غټو ګوتو کښې ظاهر شو او هغوئي هغه ګوتې ښکل کړې-

(تفسيرِروح البيان، پ 22، الاحزاب، تحت الآية: 56، 229/7 ماخوذاً- الروض الفائق، ص 241 ملتقطاً)

## مونږ د لاسو غټې ګوتې ولې ښکلوو؟

سُبْحٰنَ الله! د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ تعظيم او محبت کښې چې کوم عاشقانِ رسول د عقيدت سره د خپلو لاسو غټې ګوتې ښکلوي او د سترګو سره يې لګوي هغوئي د الله پاک د رحمت حقداران دي ځکه چې الله پاک پۀ قرآنِ کريم کښې هر مؤمِن ته د خپل خوږ نبي مکي مَدَني مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عزت او د تعظيم کولو حکم اِرشاد فرمائيلے دے، لکه څنګه چې پۀ 26 سيپاره، سورة الفتح، آيت نمبر 9 کښې اِرشاد دے: ﴿ وَ تُعَزِّرُوْهُ وَ تُوَقِّرُوْهُ ؕ وَ تُسَبِّحُوْهُ بُكْرَةً وَّ اَصِيْلًا ۝۹ ﴾ **ترجمهٔ کنزُالعِرفان:** او د رسول تعظيم و توقير کوئ او سحر او ماښام د الله پاکي بيانوئ-

اعلیٰ حضرت، اِمامِ اهلِسُنَّت اِمام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې آيت مبارک پۀ باره کښې ډيرې ښکلې خبرې کړې دي هغه په اسانو الفاظو کښې ذکر کولے شي، هغوئي

فرمائي: اللّٰه پاک دې د خپل حبيب مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ربښتينے محبت، په زړۀ کښې ربښتينے عظمت راعطا کړي او په دې باندې دې زمونږه خاتمه اوکړي۔

اٰمِيْن يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْن

مسلمانانو! وګورئ ستاسو د مولیٰ تبارک و تعالیٰ د دِين اِسلام د راليږلو، د قرآنِ مجيد د نازلولو مقصد هم درې خبرې بيانول دي: ﴿1﴾ چې خلق په اللّٰه او رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې اِيمان راوړي۔ ﴿2﴾ د رسولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تعظيم اوکړي۔ ﴿3﴾ د اللّٰه پاک په عبادت کښې اوسي۔

مسلمانانو! د دې دريو اهمو خبرو ښکلې ترتيب ته خو وګورئ، د ټولو نه وړومبے يې د اِيمان ذِکر وفرمائيلو او د ټولو نه په اخره کښې يې د خپل عبادت او په مينځ کښې يې د خپل خوږ حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تعظيم، ځکه چې بغير د اِيمان نه تعظيم فائده مند نۀ دے ولې چې دا ظاهري تعظيم شو، که په زړۀ کښې د حضورِ اَقدس صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ربښتينے عظمت وے نو ضرور به يې اِيمان راوړو، او چې تر څو پورې د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ربښتينے تعظيم نۀ وي، که ټول عمر د اللّٰه پاک په عبادت کښې تير کړې نو ټول بے کاره او مردود دے۔ (فتاویٰ رضويه، 30/307، 308 ملخصاً)

(د نورو معلوماتو د پاره ولولئ " تَمْهِيْدِ اِيْمَان بِاٰيَاتِ قُرآن"، دا رساله د فتاویٰ رضويه په 30 جلد کښې په صفحه نمبر 305 نه 358 پورې ده، هر مسلمان له دا رساله ضرور لوستل پکار ده۔)

تاج رکھا ترے سر رفعنا کا — کس قدر تیری عزّت بڑھائی ہے

(سامانِ بخشش، ص192)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** په بره بيان کړے شوي آيت مبارک کښې د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عزت او تعظيم کول مطلق بيان شوي دي هيڅ قيد پکښې نۀ دے بيان کړے شوے چې داسې تعظيم اوکړئ او داسې مۀ کوئ، لهذا که څوک د خوږ مُحَمَّد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نوم اوريدو د محبت او عقيدت نه د لاسو د غټو ګوتو يا د کلمې د ګوتو بندونه ښکلوي او د سترګو سره يې لګوي نو هغۀ ته به د خوږ مصطفٰے

صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د تعظيم عظيم الشان ثواب ميلاؤيږي بلکې کيدے شي چې د هغهٔ د اَدب دا انداز د هغهٔ د بخښنې سبب جوړ شي، لکه څنګه چې

## د خوږ مُحَمَّد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نوم ښکلولو پهٔ وجه اوبخښلے شو

حضرت وَهَب بن منبه رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: پهٔ بني اسرائيلو کښې يو ګَس وو کوم چې د دوو سو [200] کالو پورې د الله پاک نافرماني کوله، کله چې هغه وفات شو نو خلقو هغه د ښپو نه ونيولو او پهٔ راښکلو يې پهٔ ډيران وغورځولو، الله پاک د حضرت موسیٰ کليمُ الله عَلَيْهِ السَّلَام طرف ته وحي وفرمائيله چې لاړ شه او د دهٔ جنازه اوکړه، حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام عرض اوکړو: يا الله پاکه! بني اسرائيل وائي چې هغه د دوو سوو [200] کالو نه ستا نافرماني کړې ده، الله پاک اِرشاد وفرمائيلو: هغه هم داسې وو خو کله به يې چې هم تورات برسيره کولو او د مُحَمَّد (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) نوم به يې ليدلو نو هغه به يې ښکلولو او د سترګو سره به يې لګولو او پهٔ هغوئي باندې به يې درود لوستلو بس ما د هغهٔ دا عمل قبول کړو او د هغهٔ ګناهونه مې معاف کړل او د 70 جنَّتي حورو سره مې د هغهٔ نکاح اوکړه- (حلية الاولياء، 45/4، رقم:4695)

تعظیم جس نے کی محمد کے نام کی
خدا نے اُس پہ نارِ جہنم حرام کی

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** دا واقعه لوئي لوئي علمائے کرامو او محدثينِ عظامو رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہِم پهٔ خپلو کتابونو کښې ليکلې ده او د دې بيانولو والا حضرت وهب بن منبه رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ ښځپله تابعي بزرګ دے د چا پهٔ باره کښې چې حديثِ پاک بيانولے کيږي چې نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: " زما پهٔ اُمت کښې به يو ګَس وي د چا نوم به چې وهب وي- الله پاک به هغهٔ ته حِکمت عطا کوي-" (دلائل النبوة للبيهقي، 496/6)

## پهٔ اِنجيل شريف کښې د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نوم مبارک

مولانا روم رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ پهٔ خپل "مثنوي" کښې ليکلي دي چې پهٔ انجيل شريف کښې د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نوم مبارک وو کوم چې به پهٔ ادب او تعظيم کښې خوش

قِسمتو ښکلولو، الله پاک د دې په برکت هغوئي د ډيرو افتونو او مصيبتونو نه محفوظ کړل او چا چې د دې برکتي نوم بے ادبي اوکړه هغوئي هم په دُنيا کښې ذليله او رُسوا شو- (مثنوی، 102/1 ملخصاً)

محفوظ سدا رکھنا شہا! بے اَدَبوں سے
اور مجھ سے بھی سرزد نہ کبھی بے اَدَبی ہو
(وسائلِ بخشش، ص315)

## د آذان په وخت د لاسو د غټو ګوتو د ښکلولو ثواب

تقريباً دوه سوه [200] کاله مخکښې تير شوے ډير لوئي عالِم او مفتي حضرت علامه ابنِ عابدين رَحْمَةُاللهِعَلَيْه (وفات: 1252ھ) په خپله مشهوره فتاویٰ شامي کښې ليکلي دي: کله چې مؤذِن " اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللهِ" ووائي نو مستحب دي چې اوريدونکے ووائي: "صَلَّى اللهُ عَلَيْكَ يَا رَسُولَ اللهِ" او کله چې په دويم ځل دا کلمات واوري نو داسې ووائي: "قُرَّتْ عَيْنِى بِكَ يَا رَسُولَ اللهِ اللّٰهُمَّ مَتِّعْنِى بِالسَّمْعِ وَالْبَصَرِ" او د لاسونو غټې ګوتې ښکل کړي او د سترګو سره يې ولګوي داسې کوونکے به نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل ځان سره جَنَّت ته بوځي-

علامه ابنِ عابدين رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د کتابُ الفِردوس په حواله د اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک ليکلے دے: "مَنْ قَبَّلَ ظُفْرَیْ اِبْهَامِهٖ عِنْدَ سَمَاعِ اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُولُ اللهِ فِی الْاَذَانِ اَنَا قَائِدُهٗ وَمُدْخِلُهٗ فِي صُفُوفِ الْجَنَّةِ" يعني کوم ګس چې په اذان کښې " اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ الله" واوري او د خپلو لاسو د غټو ګوتو نوکان ښکلوي زۀ به د داسې ګس قيادت کووم او هغه به د جَنَّت په صفونو کښې داخلووم- (ردالمحتار، 84/2)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ علٰى مُحَمَّد

## د مسلمانانو د وړومبي خليفه عمل

د مسلمانانو وړومبي خليفه حضرت سَيِّدُنا ابو بکر صِدِّيق رَضِیَاللهُعَنْهُ چې کله د مؤذِّن نه "اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ الله" واوريدل نو دا دُعا: "رَضِيْتُ بِاللهِ رَبًّا وَّ بِالْاِسْلَامِ دِيناً وَّ بِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ نَبِيًّا" يې ولوستله او د دواړو غټو ګوتو بندونو دننه طرفونه يې ښکل کړل

او د سترګو سره يې ولګول ، په دې باندې حضورِ اَقدس صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: ”مَنْ فَعَلَ مِثْلَ مَا فَعَلَ خَلِيلِيْ فَقَدْ حَلَّتْ عَلَيْهِ شَفَاعَتِيْ“ ترجمه: څنګه چې زما دوست اوکړل څوک چې داسې کوي د هغهٔ د پاره زما شفاعت دے- (المقاصد الحسنة، ص390، تحت الحديث:1021)

اَب آئی شفاعت کی سَاعت اب آئی ذرا چین لے میرے گھبرانے والے

(حدائق بخشش، ص159)

شرحِ کلامِ رضا: د قيامت پهٔ سختو وحشت ناکو منظرونو او سختو حالاتو کښې چې کله د الله پاک پهٔ رحمت او د هغهٔ پهٔ فضل او کرم سره نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د خپلو اُمتيانو د شفاعت اِجازت ورکړے شي د هغه ايمان تازه کوونکي وخت پهٔ منظر کښې کولو اِمامِ اهلسُنَّت اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: اے مجرمه! اے ګنهګاره! اے د قيامت د اِمتحان نه ويريدونکيه! همت اوکړه، صبر اوکړه، د شافعِ اُمت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شفاعت وخت راغلے دے، تهٔ د قيامت د سختې نه مهٔ ويريږه بلکې پهٔ سکون شه-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ على مُحَمَّد

## د صحابي عمل زمونږ د پاره کافي دے

تقريباً څلور سوه [400] کاله مخکښې تير شوے عظيم محدث حضرت علامه علي قاري حنفي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه (وفات: 1014ھ) د عاشقِ اکبر، د مسلمانانو د وړومبي خليفه حضرت ابو بکر صِدّيق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ والا روايت ليکلو نه پس فرمائي: د حضرت ابو بکر صِدّيق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دا عمل زمونږ د پاره (د لاسونو پهٔ غېږ کوتو ښکلولو کښې) د ثبوت د پاره کافي دے ځکه چې نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: زهٔ پهٔ تاسو باندې خپل سُنَّت او د خپلو خلفائے راشدينو سُنَّت (يعني طريقې) لازم کووم-

(الاسرار المرفوعة في الاخبار الموضوعة، ص306، تحت الحديث: 435)

د خلفائے راشدينو نه مُراد د مسلمانانو وړومبے خليفه حضرت ابو بکر صِدّيق، دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم، دريم خليفه حضرت عثمانِ غني او څلورم

خليفه حضرت مولا علي المُرتضیٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم دي، بيا د شپږو مياشتو د پاره حضرت اِمام حَسَن مُجتبیٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ خليفه شو، د دوئي خِلافت ته خلافتِ راشده وئيلے کيږي- (بهارِ شريعت، 241/1 حصه: 1 بتغير)

## د الله پاک پهٔ نزد هم ښهٔ

صحابي رسول حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ اِرشاد فرمائيلے دے: "فَمَا رَأَى الْمُسْلِمُونَ حَسَنًا فَهُوَ عِنْدَ اللهِ حَسَنٌ- يعنې څه چې مسلمانان ښه وګڼي هغه د الله پاک پهٔ نزد هم ښهٔ دے-" (مسند امام احمد، 16/2، حديث:3600)

حضرت علامه علي قاري حنفي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: پهٔ دې روايت کښې چې دا فرمائيلے شوي دي چې: " څه چې مسلمانان ښهٔ وګڼي هغه د الله پاک پهٔ نزد هم ښهٔ دے-" دلته د مسلمانانو نه مُراد د کتاب او د سُنَّت عِلم لرونکي، د حرامو او شُبُهات [يعنې شک منو څيزونو] نه خپل ځان بچ کوونکي علمائے کرام دي- (مرقاة المفاتيح، 480/3، تحت الحديث:1385)

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د علمائے کرامو، نيکانو بندګانو او د عامو مسلمانانو پهٔ نزد د يو څيز جائز او مستحسن (يعنې خوښ) کيدل، د الله پاک پهٔ نزد هم جائز او خوښ دے او دا به ولې نهٔ وي چې نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: "إِنَّ أُمَّتِي لَا تَجْتَمِعُ عَلَى ضَلَالَةٍ" بے شکه زما اُمت پهٔ ګمراهئ راجمع کيدے نشي- (ابن ماجه، 327/4، حديث:3950)

د صدو نه د دِين د مفتيانو او کامِلو علمائے کرامو رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِم د شرعي اُصولو نه د دې حديثِ پاک "فَمَا رَأَى الْمُسْلِمُونَ حَسَنًا فَهُوَ عِنْدَ اللهِ حَسَنٌ- يعنې څه چې مسلمانان ښهٔ وګڼي هغه د الله پاک پهٔ نزد هم ښهٔ دے-" (مسند امام احمد، 16/2، حديث:3600) نه ډيرې مسئلې بيان کړې دي کومې چې د فقهې پهٔ لوئي لوئي کتابونو کښې کتلے کيدے شي- لکه

## پهٔ خپل ژوندانهٔ خپل ځان له قبر کنستل

600 کاله مخکښې تير شوے مشهور شارح حضرت بخاري علامه بدر الدِّين عيني رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ پهٔ خپل کتاب " عمدةُ القاري شرح صحيح البخاري" کښې پهٔ خپل ژوندانهٔ د خپل

ځان د پاره د قبر پهٔ تیارولو د یو اعتراض پهٔ جواب ورکولو دا اُصول بیان کړي دي چې د یو عمل د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡھُم نه نهٔ ثابتیدل، د هُغه عمل د ناجائزه کیدو دلیل نهٔ دے ځکه چې کوم عمل مسلمانان ښهٔ وګڼي هغه د الله پاک پهٔ نزد هم ښهٔ دے، خاص طور پهٔ دې شکل کښې چې هُغه عمل نیکان خلق هم کوي- نور یې د خپل ځان نه هم څلور سوه [400] کاله د مخکښې تیر شوي محدث امام بطال رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ پهٔ باره کښې لیکلي دي: د نیکانو بندګانو یوې ډلې د خپل وفات نه مخکښې د ځان د پاره قبرونه کنستلي دي د پاره د دې چې هغوئي پهٔ دې سره د خپل مرګ د راتلو تصور قائم وساتي، بعضو خلقو پهٔ دې باندې اعتراض اوکړو چې یو صحابي هم پهٔ خپل ژوندانهٔ د ځان د پاره قبر نهٔ دے کنستلے که پهٔ ژوندانهٔ قبر کنستل مستحب وے نو پهٔ صحابهٔ کرامو (رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡھُم) کښې به دا عمل ډیر زیات وے (حالانکې د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡھُم نه داسې کول ثابت نهٔ دي) نو (پهٔ جواب کښې) زهٔ دا وایم چې د دې عمل د یو صحابي نه نهٔ ثابتیدل، د دې عمل ناجائزه کیدل نهٔ لازمي کوي ځکه چې کوم څیز اِیمان والا ښهٔ وګڼي نو هغه د الله پاک پهٔ نزد هم ښهٔ وي او خاص طور چې هُغه کار کوونکي د بهترینو نیکانو خلقو نه وي-

(عمدۃ القاری شرح صحیح البخاری، 84/6۔ شرح البخاری لابن بطال، 267/3، تحت الحدیث: 1277)

## د ناجائزه وئیلو د پاره دلیل پکار دے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا اُصول پهٔ ذِهن کښې کښینوئ چې د کوم کار نه چې شریعت چرته منع نهٔ وي کړې نو د هغې مطلب دا دے چې هغه جائز دے بیا د چا پهٔ وئیلو هُغه کار نهٔ ناجائزه کیږي ځکه چې د ناجائزه کیدو د پاره د شریعت دلیل پکار دے-

بعضې نادانه د عامو ساده عاشقانِ رسول د پریشانه کولو او د نیغې لارې نه د اړولو د پاره د لاسونو د غټو ګوتو د ښکلولو یا د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ولادت پهٔ جشن کښې د خپل کور د ښائسته کولو یا د میلاد پهٔ جلوس کښې د تللو دلیلونه غواړي حالانکې دلیل هغوئي له ښودل پکار دي ولې چې پهٔ زړونو کښې د عشقِ رسول زیاتوونکي دې نیک او پاکو کارونو نه پهٔ قرآن او حدیث کښې چرته منع

کړے شوي دي؟ چې چرته هم د منع کولو حکم نشته نو بیا ولې پۀ غلط فهمۍ خورولو خلق پریشانه کوي او د اندیښنو سره یې مخ کوي؟ داسې خلقو له پکار دي چې لږ غور اوکړي چې مسلمانان د کوم مقدس کار یعنې د خوږ مُحَمَّد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نوم سره د عقیدت او محبت د اِظهار کولو نه منع کوي- داسې خلق به د قیامت پۀ ورځ بارګاهِ رسالت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته پۀ کومو سترګو حاضرېږي- کاش چې دوئي چې څومره زر وي توبه کړي ګني د مرګ نه پس ډېر پښیمانه کیدے شي-

نہ اُٹھ سکے گا قیامت تلک خدا کی قسم   اگر نبی نے نظر سے گرا کے چھوڑ دیا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ علىٰ مُحَمَّد

## فیصله پۀ تاسو؟

تقریباً پۀ ټوله دُنیا کښې دا دستور دے چې د خپل وطن د ترانې پۀ وخت ټول قوم پۀ ادب سره ودرېږي او څوک چې د دې اُلټا اوکړي هغۀ ته بعضې وخت پۀ ترس نظر هم کتلے کیږي، د کپړې نه جوړې شوې جنډې ته د عزت او تعظیم د ښکنې پۀ توګه "سلامي" کیږي، تر ننه پورې به پۀ دُنیا کښې تاسو هم نۀ وي اوریدلي چې چا د دې عمل مخالفت کړے وي یا دې ته یې د ګناه کار وئیلے وي حالانکې پۀ قرآن او حدیث کښې د دې حکم نشته او د صحابۀ کرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم پۀ دور کښې هم دا کار چرته نۀ دے شوے-

بلکې که څوک د خپل خوږ وطن د ترانې د پاره پۀ ودریدو یا پۀ سلامۍ کولو پسې خبرې کوي نو کیدے شي چې هغۀ ته "د وطن د غدار" لقب میلاؤ شي نو څوک چې د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نوم د تعظیم او د ادب کولو نه منع کول کوي هغوئي له څۀ لقب ورکول پکار دي؟

## کله چې هم پاک نوم راشي

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د آذان کولو نه علاوه هم د محبت او د تعظیم پۀ وجه د نبي رحمت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مبارک نوم پۀ اوریدو د لاسونو غټې ګوتې ښکلول

او د سترګو سره لګول جائز او خوښ عمل دے او د صدو نه بزرګانِ دِين، علمائے کامِلين رَحِمَهُمُ اللهُ عَلَيْهِم داسې کړي دي، په پاک نوم باندې د لاسونو د غټو ګوتو د ښکلولو په باره کښې حديثِ پاک، د صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم او د بزرګانِ دِين رَحِمَهُمُ اللهُ عَلَيْهِم واقعات او روايتونه د سوونو کالو په مخکښينو کتابونو کښې موجود دي د کومې مطلب چې بالکل واضحه دے چې دا د الله پاک د نيکانو بندګانو طريقه ده، مونږ له هم په دې باندې عمل کول پکار دي- راځئ چې د دې نيک کار د نور ترغيب او شوق زياتولو د پاره يوه ايمان تازه کوونکې واقعه ولولو او نيت اوکړو چې د خوږ مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نوم باندې به ضرور د لاسونو غټې ګوتې ښکلوو- اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم!

## د سترګو نه يې کاڼي راوتل (واقعه)

د نن نه تقريباً پينځه نيم [550] سوه کاله مخکښې تير شوے بزرګ، عظيم محدث امام سخاوي شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلي دي، يو بزرګ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: يو ځل سيلۍ ولګيده او يو کاڼے زما په سترګه کښې پريوتو، په راويستو راويستو يې سترے شوم خو اونه وتو د کوم په وجه چې ډير سخت تکليف وو- هغوئي چې د مؤذِن نه ''اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ الله '' واوريدل نو ''مَرْحَبًا بِحَبِيْبِيْ وَقُرَّةُ عَيْنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم'' يې ولوستو نو فوراً کاڼے راووتو- (المقاصد الحسنة، ص390، تحت الحديث:1021)

حضرت رَواد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې کله د دې واقعې نه خبر شو نو هغوئي وفرمائيل: د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فضيلتونه او برکتونه دومره زيات دي چې د هغوئي په مخکښې د دومره خبرې (يعنې د سترګې نه د کاڼي راوتل) هيڅ حيثيت نهٔ لري- (المقاصد الحسنة، ص391، تحت الحديث:1021) د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اِک دل ہمارا کیا ہے آزار اس کا کتنا　　تم نے تو چلتے پھرتے مُردے جِلا دیئے ہیں

(حدائقِ بخشش، ص101)

شرحِ کلامِ رضا: یا رسولَ اللہ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! اللّٰہ پاک تاسو ته دا معجزه درعطا کړې ده چې تاسو مړي راژوندي کوئ- پهٔ ډېرو حدیثونو مبارکو کښې ستاسو د دې معجزې واقعات موجودې دي بلکې ستاسو صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اِسلام د دعوت پهٔ برکت داسې لوئې لوئې غیر مسلمو (کوم چې پهٔ حقیقت کښې د مړو نه هم زیات وو ځکه چې د هغوئې زړونه ژوندي نهٔ وو، هغوئې) کلمه ووئیله او پهٔ اِسلام کښې داخِل شو چې اوس د هغوئې ذِکرِ خیر زمونږ د پاره عبادت دے- چې تاسو د دومره فضیلتونو او کمالونو والا یې نو زمونږه زړهٔ کوم چې د ګناهونو پهٔ سیاهۍ مړ شوے دے د دې ژوندي (یعني پاک او صفا) کول ستاسو د پاره هیڅ مشکل نهٔ دي، بس د رحمت یو نظر زمونږ ګنده زړهٔ ته هم اوکړئ- پهٔ یو بل ځائے کښې یې لیکلي دي:

ان کے نام کے صدقے جس سے جیتے ہم ہیں جِلاتے یہ ہیں

(حدائقِ بخشش، ص483)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

## چرې به یې هم سترګې نهٔ خوږېږي

عظیم محدث اِمام سخاوي شافعي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ لیکلي دي: حضرت خضر عَلَیْہِ السَّلَام اِرشاد فرمائیلے دے: کوم ګس چې د مؤذِن پهٔ " اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ الله" اوریدو ووائي: :" مَرْحَبًا بِحَبِیْبِیْ وَ قُرَّۃُ عَیْنِیْ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الله" بیا د لاسونو دواړه غتې ګوتې ښکل کړي او د سترګو سره یې ولګوي، نو د هغهٔ سترګې به چرې هم نهٔ خوږېږي- (المقاصد الحسنة، ص390، تحت الحديث:1021)

## زما د سترګو یخ والے

د رسول اللّٰہ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نمسي، د حضرت بي بي فاطِمةُ الزَهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا د زړهٔ د ټوټې، حضرت اِمام حَسَن مجتبیٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روایت دے: کوم ګس چې د مؤذِن پهٔ "اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللهِ" اوریدو دا ووائي "مَرْحَبًا بِحَبِیْبِیْ وَقُرَّۃُ عَیْنِیْ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ" او د خپلو لاسونو غتې ګوتې ښکل کړي او د سترګو سره یې ولګوي نو هغه به چرې هم نهٔ ړندیږي، نهٔ به چرې هم د هغهٔ سترګې خوږېږي- (المقاصد الحسنة، ص391، تحت الحديث:1021)

## نابينا کيږي به نهٔ

حضرت طاؤسي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: هغوئي د خواجه شمس الدِّين محمد بن ابي نصر بخاري رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه نه دا حديث اوريدلے دے چې کوم ګس چې د مؤذِن د کلماتِ شهادت پهٔ اوريدو د لاسونو د غټو ګوتو نوکان ښکل کړي، د سترګو سره يې ولګوي او دا دُعا ولولي: " اَللّٰهُمَّ احۡفَظۡ حَدَقَتَيۡ وَنُوۡرَهُمَا بِبَرَكَةِ حُدَقَتَيۡ مُحَمَّدٍ رَّسُوۡلِ اللهِ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ وَنُوۡرَهُمَا، [1] " نو ړنديږي به نهٔ- (المقاصد الحسنة، ص 391، تحت الحديث:1021)

## د حضرت خضر عَلَيۡهِ السَّلَام فرمان

حضرت محمد بن صالح مدني رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه بيانوي چې ما د حضرت مجد مصري رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه نه دا اوريدلي دي: کوم ګس چې د اذان پهٔ وخت د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکرِ خير واوري او پهٔ هغوئي باندې درودِ پاک ولولي او خپلې د شهادت والا ګوتې او غټې ګوتې يو ځائے کړي او ښکل يې کړي او د خپلو سترګو سره يې ولګوي نو د هغهٔ سترګې به چرې هم نهٔ خوږيږي-

(المقاصد الحسنة، ص 391، تحت الحديث:1021)

حضرت محمد بن صالح مدني رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: ما د عراق يا د عجم د بعضو مشائخو پهٔ باره کښې اوريدلي دي چې هغوئي فرمائيلي دي چې د خپلو سترګو سره (د لاسونو د غټو ګوتو) لګولو پهٔ وخت دا لولئ: " صَلَّى اللهُ عَلَيۡكَ يَا سَيِّدِيۡ يَا رَسُوۡلَ اللهِ يَا حَبِيۡبَ قَلۡبِيۡ وَيَا نُوۡرَ بَصَرِيۡ وَيَا قُرَّةَ عَيۡنِيۡ" ترجمه: اے زما د سترګو يخ واليه، اے زما د سترګو نُوره او د زړهٔ سروره، زما سرداره يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ تاسو باندې دې درود وي-

---

[1] ... ترجمه: اے الله پاکه! د حضرت محمدٌ رّسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دواړو سترګو او د هغوئي د نُور پهٔ برکت سره زما د دواړو سترګو او د دې د نُور حفاظت اوکړې-

حضرت محمد بن صالح مدني رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: پهٔ دوئي کښې هر شيخ فرمائي: د کله نه چې زهٔ دا عمل کووم زما سترګې نهٔ دي خوږ شوې- حضرت محمد بن صالح مدني رَحْمَةُاللهِعَلَيْه نور فرمائي: اَلْحَمْدُلِلّٰه! د کله نه چې ما د دې حضراتو نه اوريدلي دي، زما پهٔ سترګو هم چرې تکليف نهٔ دے راغلے، او زما اُميد دے چې زما سترګې به هميشه پهٔ عافيت سره وي او اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! زهٔ به د ړنديدو نه هم محفوظ يم-

(المقاصد الحسنة، ص 391، تحت الحديث: 1021)

آنکھوں کا تارا نامِ محمد　　دل کا اُجالا نامِ محمد
شیدا نہ کیوں ہوں اس پر مسلماں　　رب کو ہے پیارا نامِ محمد
پوچھے گا مولیٰ لایا ہے کیا کیا　　میں یہ کہوں گا نامِ محمد
آنکھوں میں آکر دِل میں سما کر　　رنگت رَچا جا نامِ محمد
اپنے جمیلؔ رضوی کے دل میں　　آ جا سما جا نامِ محمد

(قبالۂ بخشش، ص135133)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ علىٰ مُحَمَّد

## د علامه طحطاوي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه بيان

د نن نه تقريباً دوه سوه [200] کاله مخکښې تير شوے د فقهٔ حنفي ډير لوئي اِمام او زبردست عالِم حضرت علامه طحطاوي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه ليکلي دي: (پهٔ اذان کښې) د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ شهادتونو کښې د وړومبي د اوريدو پهٔ وخت دا وئيل: " صَلَّى اللهُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله يعني يا رسول الله! الله پاک دې پهٔ تاسو باندې درود (يعني رحمت) راوليږي، مستحب دي او پهٔ دويم (شهادت يعني اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّداً رَّسُوْلُ الله) د اوريدو پهٔ وخت پهٔ سترګو باندې د لاسونو د غټو ګوتو د کيښودو نه پس: قَرَّتْ عَيْنِيْ بِكَ يَا رَسُوْلَ الله اَللّٰهُمَّ مَتِّعْنِيْ بِالسَّمْعِ وَالْبَصَرِ " يا رسولَ الله! پهٔ تاسو باندې زما سترګې يخې شوې، اے الله تهٔ ما ته د سماعت [يعني غوږونو] او د بصارت [او سترګو] نه فائده راعطا کړې" ولولي نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هغه کَس د پاره د جَنَّت طرف ته قائد (يعني لار ښودونکے) وي- (حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح، ص 205)

## د شجرۀ قادريه پۀ بارګاهِ رسالت کښې مقبوليت

د 29 رَمَضَانُ الْمُبَارَک کال 1428ھ خبره ده چې د کراچۍ د ملير هالټ علاقې يو ذمه دار اِسلامي ورور د عاشقانِ رسول د دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي پۀ عالمي مَدَني مرکز فيضان مدينه کراچۍ (پاکستان) کښې پۀ اِجتماعي اعتکاف کښې کيناستو، دلته خوندورې نظارې وې، د سحر د نـمونځ نه پس اعتکاف کوونکو د شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علامه مولانا محمد الياس قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ديدن کولو، کله چې شجرۀ عاليه قادريه رضويه عطاريه لوستلے کيدله نو هغه اِسلامي ورور پۀ وړومبي صف کښې راغلو او کيناستو- ټولو عاشقانِ رسول پۀ تيز اواز پۀ شريکه د شجره شريف منظوم دعائيه شعرونه لوستل- کله چې د مدينے د سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکر مبارک راغلو نو هغوئي د خپلو لاسونو غټې ګوتې ښکل کړې او د سترګو سره يـې ولګولې- ناڅاپه پۀ هغوئي باندې پرکالي راغله، د سَر سترګې يـې څۀ پټې شوې چې د زړۀ سترګې يې وغړيدلې- هغوئي وليدل چې د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه سره شجره شريف لوستونکي ټول اِسلامي وروڼه د شنو جنګلو مخې ته حاضر دي او د الله پاک خوږ اخري نبي، مکي مَدَني مُحَمَّد عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپلو عاشقانو له د ديدن جامونه ورکوي- حاضرين د شجرۀ عاليه دُعائيه شعرونه لولي او خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل لاسونه مبارک اوچتوي او پۀ دغه دُعائيه شعرونو باندې آمين وائي-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## پۀ څلورو موقعو باندې د لاسونو غټې ګوتې مۀ ښکلوئ

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! کله هم چې د شاتو نه خوږ ښکلي نوم مُحَمَّد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اخستو يا د اوريدو سعادت نصيب کيږي د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تعظيم پۀ نيت ډير پۀ ادب او تعظيم سره د لاسونو دواړه غټې ګوتې ښکل کړئ او (د ښکلولو د اواز پيدا کولو نه بغير) يـې د سترګو سره ولګوئ (د بعضې روايتونو مطابق د شهادت د ګوتو ښکلولو او د هغې د دننه حصې يعني بندونو هم ښکلولے او په سترګو پورې کولے شئ) اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيْم! د ډير ثواب سره سره به د

سترګو د بينايۍ حفاظت هم کيږي- البته څلور داسې موقعې دي په کومو باندې چې اعلیٰ حضرت امامِ اهلِ سنّت مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي چې په دې موقعو باندې د خوږ مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نوم اخستو يا اوريدو باندې به د لاسونو غټې ګوتې نۀ ښکلوے کيږي- ﴿1﴾ په نـمونځ کښې ﴿2﴾ په خطبه کښې ﴿3﴾ د خطبې په اذان کښې ﴿4﴾ د تِلاوت د اوريدو په وخت (ځکه چې شرعي حُکم دے کله چې خطبه يا تلاوت اورى نو په پوره توجه سره يـې اورئ-) (فتاوىٰ رضويه، 5/415۔8/468 ملخصاً)

## د لاسونو د غتو ګوتو د ښکلولو نه چا منع کړې يـئ؟

امامِ اهلِ سنّت اعلیٰ حضرت مولانا شاه امام احمد رضاخان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په خپله رساله ''مُنِيْرُالْعَيْنِ فِيْ حُكْمِ تَقْبِيْلِ الْاِبْهَامَيْنِ'' کښې د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نوم باندې د لاسونو د غتو ګوتو د ښکلولو په باره کښې ډيره ښکلې خبره ليکلې ده کومه چې د اسانولو سره وړاندې کولےشي : د حضور پر نُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارک نوم په اذان کښې د اوريدو په وخت د لاسونو دواړه غټې ګوتې يا دواړه د شهادت د ګوتو د ښکلولو او د سترګو سره لګول بالکل جائز دي، د دې په جائز کيدو باندې ډير دليلونه موجود دي او فرض کړئ که په جائز کيدو باندې يـې څۀ دليل نۀ وے نو بيا هم دې د ناجائزه وئيلو هيڅ دليل نۀ وو ځکه چې په شريعت کښې د دې نه چرته هم منع نۀ ده فرمائيلے شوې- مَعَاذَالله! څوک چې دې عمل ته ناجائزه وائي د هغۀ په ذمه ثبوت ورکول دي چې هغه ووائي چې په قرآن او حديث يا په بزرګانِ دِين رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهِم کښې چرته د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نوم اوريدو په تعظيم کښې د لاسونو د غټو ګوتو د ښکلولو نه منع کړے شوې دي - خو دلته خو په حديثونو مبارکو، فقه او د علمائے کرامو په اقوالو او د بزرګانِ دِين په دې عمل جائز کيدو باندې ډير دليلونه موجود دي- (فتاوىٰ رضويه، 5/430 تسهيلاً)

## د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نوم مبارک نه خوند اخستونکې فرښتے

د اللّٰه پاک خوږ نبي، مکي مَدَني مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: زۀ به د قيامت پۀ ورځ د جَنَّت دروازې له راځم او د هغې د برسيره کولو حکم به کووم نو د جَنَّت پۀ دروازه باندې مقرره فرښته حضرت رضوان عَلَيْهِ السَّلَام به عرض کوي: تاسو څوک يئ؟ نو زۀ به وايم "مُحَمَّد" نو هغه به عرض کوي: "لَبَّيک" ولې نۀ ما ته حکم راکړے شوے دے چې زۀ ستاسو نه مخکښې چا ته هم د جَنَّت دروازه برسيره نکړم۔ (مسلم، ص107، حديث:486)

د دې حديثِ پاک پۀ شرح کښې د نن نه تقريباً 500 کاله مخکښې تير شوے بزرګ حضرت علامه عبد الرؤف مُناوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلي دي: حضرت رضوان عَلَيْهِ السَّلَام به د مالکِ جَنَّت قاسمِ نعمت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته "تاسو څوک يئ" ځکه عرض کوي چې هغه د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه د هغوئي نوم مبارک "مُحَمَّد" (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) واوري او د هغې نه خوند حاصل کړي، ګنې د جَنَّت د دروازو نه يو اړخ او بل اړخ ښکاري، هغه به صرف د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نوم مبارک نه د مزې اخستو د پاره دا پوښتنه کوي۔ (فيض القدير، 50/1، تحت الحديث:2)

سُبْحٰنَ الله! د جَنَّت پۀ دروازه باندې مقرره فرښته، خازنِ جَنَّت، حضرت رضوان عَلَيْهِ السَّلَام خو د خوږ مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نوم نه مزې اخلي او بل طرف ته هغه نادانه کوم چې ځان ته د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمتي هم وائي، هغه د خوږ مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ نوم باندې د ګوتو پۀ ښکلولو نۀ پوهيږي، دا څومره بے وفائي او بد نصيبي ده۔ د خوږ مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ نوم باندې چې کله بے اِختياره شونډې يو بَل ښکل کړي نو مونږ ولې نۀ د خپل والدِ محترم حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام او د اِسلام د وړومبي خليفه حضرت ابو بکر صِدِّيق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پۀ مبارک عمل باندې پۀ عمل کولو د خپلو لاسونو غټې ګوتې يا د شهادت ګوتې نۀ ښکلوو۔

اِمامِ عشق او محبت اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلي دي:

لب پر آجاتا ہے جب نامِ جناب — منھ میں گھل جاتا ہے شہدِ نایاب

وجد میں ہو کے ہم اے جاں بیتاب اپنے لب چُوم لیا کرتے ہیں

(حدائقِ بخشش، ص114)

شرحِ کلامِ رضا: د الله پاک د خوږ اخري نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښکلے خوږ نوم " مُحَمَّد " (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) چې کله مونږ په خپله خُله باندې ادا کړو نو د دې په خوږ والي زمونږه خُله دومره خوږه شي دا نۀ بلکې د خوږ مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نوم په اخستو زمونږه شونډې په شوق سره بے اختیاره یوه بله ښکل کړي-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ علٰى مُحَمَّد

## د عقل والؤ د پاره عقلي دلیل

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د صحابۀ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم د عشقِ رسول نه د حدیثونو مبارکو او د سیرت د کتابونو لوستونکي پوهیږي چې هٰغه حضراتو به د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تبرکات سمبالول- د ماشومانو په پیدائش به یې هغوئي ټول وړومبے بارګاهِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته وړاندې کول د پاره د دې چې د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم برکت حاصل کړي، که ماشومان به د نظره یا بیمار شو نو په نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به یې دمول، د صحابۀ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم دا اعمال زمونږ د پاره د لارې بَل مثال دے- حالانکې دا شرعي طور څۀ واجِب کار نۀ دے خو په شریعت کښې منع هم نۀ دے، نن هم د اولیائے کرامو عاشقان د بزرګانِ دِین رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم د برکت حاصلولو د پاره خپل ماشومان د هغوئي بارګاه ته بوځي او د هغوئي برکتونه حاصلوي ، د تابعینو، تبع تابعینو او د صدو نه د ډیرو بزرګانِ دِین رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ادب او د تعظیم داسې اندازونه دي په کومو چې شرعي طور هیڅ نیول نشته، عاشقانِ رسول د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په محبت کښې د بزرګانِ دِین رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم لا ره اختیاروي او برکتونه حاصلوي-

د کروړونو مالکیانو د پیشوا، اِمامِ مالِک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره کوم شرعي دلیل وو چې هغوئي به حدیثِ پاک ډیر په اهتمام سره یعني په غسل کولو، په ښو جامو اغوستو او په خوشبوئي

لګولو ښودل- (الشفا،2/45) یقیناً چې د هغوئي په مبارک زړهٔ کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تعظیم وجه وه د کوم په وجه چې به هغوئي د حدیث مبارک دومره قدر، ادب او احترام کولو، هم دا نهٔ بلکې اِمامِ مالِک رَحْمَةُاللهِ عَلَیْه به د مدینے منورې نه بهر نهٔ وتلو چې هسې نهٔ د مدینے منورې نه بهر راله مرګ راشي، اِمامِ مالِک رَحْمَةُاللهِ عَلَیْه به په مدینه منوره کښې په سورلۍ باندې نهٔ کیناستو- هغوئي به د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تعظیم سره سره د خوږ محبوب صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ښار مدینة الرسول دومره قدر او احترام کولو کوم چې په ظاهره د کوم صحابي نه ثابت نهٔ دې خو دا د هغوئي عشقِ رسول وو او د صدو نه تر ننه پورې یو عالِمِ دِین هم د دې تعظیم نهٔ منع نه ده فرمائیلې ځکه چې په شریعت کښې د دې نه چرته هم د دې نه منع نهٔ ده کړے شوې- د نورو یو څو بزرګانو اعمال ولولئ او په خپلو زړونو کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تعظیم زیات کړئ:

عظیم تابعي بزرګ حضرت ابو ایوب سختیاني رَحْمَةُاللهِ عَلَیْه ډېر لوئي عاشقِ رسول بزرګ وو، د ابو ایوب سختیاني رَحْمَةُاللهِ عَلَیْه په مخکښې چې به چرته هم د نبي کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکرِ خیر کیدو نو هغوئي به دومره ژړل چې د لیدونکو به پرې رحم راتللو-

(حلیة الاولیاء، 4/3، حدیث:2916۔ الشفا، 2/42)

د اهلِ بیتو د خاندان د سترګو تور او عظیم تابعي بزرګ حضرت سیدنا اِمام جعفر صادق بن مُحَمَّد رَحْمَةُاللهِ عَلَیْه ډېر د ښهٔ طبیعت او خوشحال بخته بزرګ وو خو کله چې به د هغوئي په محفل کښې د نبي پاک صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکرِ خیر کیدلو نو د هغوئي رنګ مبارک به (د هیبت او د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په تعظیم کښې) زیړ شو- (الشفا، 2/42)

عظیم تبع تابعي بزرګ حضرت ضِرار بن مُره رَحْمَةُاللهِ عَلَیْه فرمائي چې سلف صالحینو به بغیر د اودس نه حدیثِ پاک بیانول مکروه (یعني ناخوښه) ګڼل- (الشفا، 2/45)

یقیناً چې د دې بزرګانِ دِین رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہِم دا پاک اعمال د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د محبت او تعظیم په وجه وو کوم چې وروستو راتلونکو علمائے کرامو په خپلو کتابونو کښې، زمونږ په زړونو کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عظمت زیاتولو د پاره لیکلي دي، دا اعمال په شرعي توګه فرض نۀ دي او نۀ واجِب خو په زړۀ کښې د عشقِ رسول د لرونکو د پاره ډیر ذوق زیاتوونکي او ایمان تازه کوونکي دي او په قرآن او حدیث کښې د دې نه د منع کولو حکم نشته- الله پاک دې مونږ ته هم توفیق راعطا کړي چې په عشقِ رسول کښې ورغوپه شو او د اوداسۀ په حالت کښې د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په تعظیم کښې حدیثونه مبارک واورو نو ځومره به ښه خبره وي ،چې د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په نوم د لاسونو غټې ګوتې ښکل کړو نو څۀ ګرانه ده چې:

آنکھیں جو بند ہو تو مقدر کھلیں حسن | جلوے خود آئیں طالبِ دیدار کی طرف

(ذوقِ نعت، ص 157)

## د تُرک عاشقانِ رسول د محبت نه ډک انداز

د تُرک عاشقانِ رسول عشقِ رسول هم ځومره عجیبه دے، په کوم عقیدت او احترام سره چې سلطنتِ عثمانیه په مسجدِ نبوي شریف کښې د ودانۍ او د پراختیا کار اوکړو، تاریخ د هغې مثال نشي پیش کولے- د سلطنتِ عثمانیه د وخت نه یا د هغې نه هم مخکښې د ترکې په عاشقانِ رسول کښې د عشقِ رسول نه ډک یو ښکلے انداز دا هم لیدلے شوے دے چې په خبرو کښې چې کله څوک د خوږ مُحَمَّد (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) نوم مبارک واخلي نو دا عاشقانِ رسول په خپلو سینو باندې د محبت نه د زړۀ طرف ته لاس کیږدي او د خوږ مُحَمَّد (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) د نوم سره د ډیر محبت اِظهار کوي- یقیناً چې د دوئي دا انداز د عاشقانِ رسول په زړونو کښې د عشقِ رسول زیاتوونکے او ایمان تازه کوونکے دے-

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي باني امیرِ اهلِسُنَّت حضرت علامه مولانا مُحَمَّد الیاس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ربښتونے عاشقِ رسول دے هغوئي چې کله د ترکي د عاشقانِ رسول د دې انداز نه خبر شو نو هغوئي هم دا انداز اختیار کړو او هغوئي ته پۀ کتلو ډیر اِسلامي وروڼه دا انداز اِختیاروي هسې هم دلته بعضې خلق چې سلام کوي نو د لاس میلاوهلو نه پس خپل ښیۍ لاس پۀ سینه باندې ږدي پۀ کوم کښې چې پۀ شرعي توګه هیڅ باک نشته- چې د یو عام کَس سره د سلام کولو پۀ وخت پۀ سینه باندې پۀ لاس ایښودو کښې څه باک نشته نو د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تعظیم پۀ خاطر د نوم مبارک پۀ اخستو یا اوریدو لاس د سینې سره لګول، د ادب نه سر ښکته کول د سعادت خبره ده-

## د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نوم مبارک او اعلیٰ حضرت

اِمام امیرِ اهلِسُنَّت، اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ نوم مبارک باندې د څومره ادب او احترام اظهار فرمائیلے دے- پۀ خپل نعتیه کلام ”حدائقِ بخشش“ کښې یې لیکلي دي:

بہ ادب جھکالو سرِ ولا کہ میں نام لوں گل وباغ کا گلِ تر محمدِ مصطفٰے چمن اُن کا پاک دِیار ہے

(حدائقِ بخشش، ص353)

شرحِ کلامِ رضا: اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! زۀ د یوې داسې عظیم ترین هستۍ نوم مبارک اخستونکے یم کوم چې د کائنات اصلي مقصود دے او پۀ کوم ښار کښې چې هغوئي تشریف فرما دي هغه د کائینات غمے دے خو زۀ چې د هُغه هستۍ پاک نوم کله اخلم نو تاسو ټول به خپل سرونه د هغوئي پۀ تعظیم او توقیر او محبت کښې د ادب او احترام نه ټیټوئ نو دا واخلئ! هُغه د عزت والا هستي، د دې کائنات پۀ ښکلي باغ ”مدینه منوره“ کښې اوسیږي او پۀ هُغه باغ کښې ځلیدونکے او د خپلې خوشبوئۍ خوروونکے والا تازه ګل زما خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے-

میں عشقِ نبی میں رہوں گم ہمیشہ تُو دیوانہ ایسا بنا یا الٰہی

(وسائلِ بخشش، ص100)

## د لاسونو د غټو ګوتو د ښکلولو په باره کښې د يو څو وسوسو جوابونه

د خوږ مُحَمَّد (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) په نوم مبارک باندې په محبت او تعظیم کښې د لاسونو د غټو ګوتو ښکلوونکي بعضې خلق شیطان په قِسما قِسم وسوسو بے لا رې کوي بیا په شیطاني وسوسو کښې راتلونکي هغه خلق د ساده باده عاشقانِ رسول د پاک کار په باره کښې په وسوسو کښې د اخته کولو کوشش کوي، دلته د يو څو وسوسو او د هغې علاج وړاندې کولے شي- د دې لوستل به په معلوماتو کښې د زیاتوالي سبب جوړیږي- اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِیۡم!

خو یاد ساتئ چې په پاک نوم باندې د ګوتو ښکلول، په درود او سلام کښې وردیدل، دا د عشق والؤ سودا ده، په کوم سعادت مند کښې چې د رسول اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم محبت وي، هغوئي ته به د دې برکتي اعمالو قدر معلوم وي البته چې د چا په قِسمت کښې د هغوئي نه لرې کیدل وي د هغه په باره کښې هُم د هدایت دُعا کیدے شي- تاسو به ډیر خلق لیدلي وي کوم چې د سلام کولو نه پس خپل لاس په سینه باندې ږدي، چرته چا په دې باره کښې د څهٔ شرعي حکم پوښتنه کړې ده؟ چې داسې کول جائز دي او که ناجائزه؟ د خپل بچي په محبت کښې لاسونه او سر وغیره پته نهٔ لګي چې کوم کوم ځایونه ښکلوي په دې باندې چرته چا څهٔ وئیلي دي چې د دې ښکلول چرته لیکلے شوي دي؟ بس هم د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په محبت او په تعظیم کښې ورته وریاد شي چې دا چرته لیکلے شوي دي؟ دا خو د عاشقِ رسول په قِسمت کښې لیکلے شوي دي-

یہ بڑے کرم کے ہیں فیصلے  یہ بڑے نصیب کی بات ہے

## آیا تاسو ته هم نُور ښکاري؟

**وسوسه:** حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام چې د خپلو لاسونو په غټو ګوتو کښې د نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نُور ولیدو نو ښکل یې کړو، آیا تاسو هم نُور وینئ که نهٔ یې وینئ نو بیا یې ولې ښکلوئ؟

**جواب:** مَاشَآءَاللّٰہ! ستاسو د دې خبرې نه کم از کم يوه خبره خو واضحه شوه چې تاسو زمونږ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم "نُور" منئ او اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دا د قرآن او د حديث نه ثابت دي- اوس پاتې شوه ستاسو پوښتنه چې حضرت آدم عَلَیۡہِ السَّلَام د رسول اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نُور ليدلے وو نو آيا مونږ نُور وينو؟ په دې باره کښې عرض دا دے چې تاسو د حج په مناسکو (يعنې ارکانو) کښې په طواف کولو د حجرِ اسود اِستِلام د لرې نه ولې کوئ؟ آيا تاسو ته په مِنیٰ کښې شيطان (ابليس) ښکاري؟ او آؤ! تاسو په مسعیٰ کښې سعي ولې کوئ؟ آيا تاسو هم تنده زغلوي ؟ که په ديانتدارئ سره جواب راکړئ نو ستاسو جواب به دا وي چې په طواف کښې رش ډير وي او د هر چا هر ځل حجرِ اسود ښکلول اسان نهٔ دي نو ځکه په لرې ودريدو په روايتونو باندې په عمل کولو د خپلو لاسونو په ذريعه اِستِلام (يعنې ښکلوو)- دغه شان د سعي سُنَّت هم د حضرت بي بي هاجره رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہا په ياد کښې ادا کوو کله چې هغې د خپل وړوکي شهزاده حضرت اسماعيل عَلَیۡہِ السَّلَام د تندې نه په بے تابه کيدو بيا بيا د دوو غرونو صفا او مروه ترمينځه منډې وهلې او حضرت اِبراهيم عَلَیۡہِ السَّلَام په مِنیٰ کښې شيطان ليدلے وو او درې کرته يــې په کاڼو ويشتے وو، اوس حاجيانو ته د هميشه د پاره د هُغه حضراتو د اداګانو د ادا کولو حکم ورکړے شوے دے نو چې دومره ډير کارونه تاسو د هُغه عظيمو بزرګانو په تصوراتو او د هغوئي په ياد کښې کوئ نو د حضرت آدم عَلَیۡہِ السَّلَام په ياد کښې تاسو د خپلو لاسونو غټې ګوتې هم ښکلوئ- ښهٔ ګرانه ده چې تاسو په عقيدت او تعظيم سره د لاسونو غټې ګوتې ښکل کړئ او په تاسو باندې هم کرم وشي-

## د لاسونو غټې ګوتې ښکلول د يو کتاب نه ثابت نهٔ دي

**وسوسه:** د لاسونو غټې ګوتې ښکلول د يو کتاب نه هم ثابت نهٔ دي-

**جواب:** آيا تاسو څوارلس سوه [1400] کاله نه اوسه پورې پهٔ لکونو بلکې پهٔ کروړونو ټول دِيني کتابونه لوستلي دي؟ څهٔ چې تاسو وايئ پهٔ يو کتاب کښې نهٔ دي ليکلے شوي- يقيناً چې ستاسو جواب به وي، نا ټول دِيني کتابونه خو مو نهٔ دي لوستلي- نو عرض دا دے چې کوم کتابونه تاسو اوسه پورې نهٔ دي لوستلي، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم پهٔ نوم مبارک باندې د لاسونو د غټو ګوتو د ښکلولو بيان پهٔ هٰغه کتابونو کښې موجود دے او پهٔ دې باره کښې حديثونه او روايتونه پهٔ تيرو صفحو کښې سره د حوالې وړاندې کړے شوي دي، هغه لولئ او بخپله هم د خوږ مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم پهٔ نوم مبارک باندې د لاسونو غټې ګوتې ښکلوئ او نورو له هم د نيک کارونو پهٔ ترغيب ورکولو د ثواب حقدار جوړ شئ-

## د صحيح حديث نهٔ کيدو څهٔ مطلب دے؟

**وسوسه:** د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم پهٔ نوم مبارک باندې د لاسونو د غټو ګوتو د ښکلولو پهٔ باره کښې هيڅ صحيح حديث نشته، دا بِدعت (يعنې نوے کار) دے-

**جواب:** د ټولو نه وړومبے دا ووايئ چې محدثينِ کرام رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡهِم چې د حديثِ پاک کوم مختلف قِسمونه بيانوي آيا د هغې ذِکر پهٔ قرآن او حديث کښې پهٔ ښکاره الفاظو کښې بيان شوے دے؟ نو ستاسو جواب به يقيناً چې "نا" وي- ښه! دا ووايئ چې آيا يو صحابي رَضِىَاللّٰهُعَنۡهُ يو حديث ته "صحيح" يا "حسن" يا "ضعيف" وئيلے دے؟ يقيناً پهٔ دې کښې به هم تاسو وايئ چې "نا" نو کوم کار چې پهٔ قرآن او حديث کښې نهٔ وي او صحابهٔ کرامو رَضِىَاللّٰهُعَنۡهُم هم نهٔ وي کړے هغه ستاسو پهٔ نزد څهٔ دے؟ بيا تاسو ولې بيا بيا وايئ چې صحيح حديث، صحيح حديث؟

بے شکه! محدثين کرامو رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡهِم چې د حديثونو کوم قِسمونه بيان کړي دي او د هغې قائدې او ضابطې يې بيان کړې دي دا نوي کارونه دي خو دا کارونه د شرعي ضرورت پهٔ وجه دي نو دا بدعتِ حسنه (يعنې نوے ښه کار) دے پهٔ کومې چې به دغه

حضراتو ته د قيامته پورې ثواب ميلاوېږي او په دې باندې تر ننه پورې چا هيڅ اعتراض نه دے کړے ولې چې ټول دا قاعدې او اصطلاحات مني-

چې تاسو د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم نه پس هم د راتلونکو محدثينِ کرامو نه د حديث اصطلاحات اخلئ او دا صحيح ګڼئ نو بيا خو د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په نوم باندې د لاسونو دغټو ګوتو د ښکلولو روايتونه د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم سره سره د ډيرو بزرګانِ دِين رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِم نه مروي دي (کوم چې مخکښې تير شوي دي) په هغې باندې ولې عمل نهٔ کوئ؟

## په مبارک نوم باندې د لاسونو د غټو ګوتو د ښکلولو د روايتونو حکم او د صحيح حديث مطلب

اهمه خبره: د صحيح حديث مطلب دا نهٔ دے چې صحيح او غلط- بلکې محدثينِ کرامو رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِم د حديثِ پاک ډير قِسمونه بيان کړي دي- په کومو کښې چې د ټولو نه اعلیٰ قِسم "صحيح" دے- د خوږ مُحَمَّد (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) په نوم باندې د لاسونو د غټو ګوتو يا د شهادت د ګوتو په ښکلولو باندې د صحيح حديث نهٔ کيدو هيڅکله هم دا مطلب نهٔ دے چې مَعَاذَاللّٰه! دا حديثِ پاک موضوع (يعني د ځانه جوړ کړے شوے) دے بلکې عِلم والؤ ته معلومه ده چې کوم حديث صحيح نهٔ وي نو هغه به د بل قِسم په حديثِ پاک کښې وي، په صحاح سِتَّه (د حديثِ پاک د ټولو نه زيات قابلِ اعتماد شپږو کتابونو: بخاري، مسلم، ابو داؤد، نَسائي، ترمِذي او ابنِ ماجه) کښې ټول حديثونه مبارک صحيح نهٔ دي بلکې د اکثرو د صحيح کيدو په وجه دې کتابونو ته "صحاح" (يعني صحيح) وئيلے کيږي-

"د لاسونو د غټو ګوتو د ښکلولو په باره کښې هيڅ صحيح حديث نشته" په دې وسوسه باندې په اسانو لفظونو کښې ځان داسې پوهه کړئ چې که يو ګَس د چا نه پوښتنه اوکړي تاسو جاز چلوئ او هغه جواب درکړي چې نا- نو آيا د دې مطلب به دا وي چې دې اِنسان له د هيڅ ځيزچلول نهٔ ورځي؟ کيدے شي چې هُغه انسان سمندري

جاز یا ریل ګاډے یا ټرک یا موټر یا موټر سائیکل چلولے شي۔ د یوې خبرې په نفې کولو باندې د هر څیز نفې نشي کیدے۔ د نورو معلوماتو د پاره د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ کتاب ''مُنِیۡرُالۡعَیۡنِ فِیۡ حُکۡمِ تَقۡبِیۡلِ الۡاِبۡهَامَیۡنِ'' ولولئ! اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ په دې کتاب کښې د عِلمِ حدیث په باره کښې ډیر معلومات ورکړي دي د خوږ مُحَمَّد (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) په نوم باندې د لاسونو د غټو ګوتو د ښکلولو په موضوع باندې اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ تقریباً د 200 صفحو دا عالي شان کتاب د 29 کالو په عمر کښې لیکلے وو۔ که څوک په ایمانداری سره او د تنقید په ځائے د عقیدت او د محبت په نظر دا ولولي نو هغه به ېخپله هم د خوږ مُحَمَّد (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) په نوم باندې د لاسونو غټې ګوتې ښکلوي او نورو له به هم د ښکلولو ترغیب ورکوي خو تجربه شرط دے---

## په نوم مبارک باندې د لاسونو د غټو ګوتو ښکلول ټوټکه ده؟

**وسوسه:** د لاسونو د غټو ګوتو ښکلول هیڅ د فضیلت کار نهٔ دے بلکې دا خو یو قِسم له ټوټکه ده۔

**جواب:** د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په نوم مبارک باندې د لاسونو د غټو ګوتو ښکلول نهٔ یواځې د حضرت ابو بکر صِدّیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ سُنَّت دي بلکې د حضرت آدم عَلَیۡہِ السَّلَام سُنَّت دي او په حدیثِ پاک کښې دي: '' اَلۡبَرَکَۃُ مَعَ اَکَابِرِکُمۡ '' یعنې برکت ستاسو د مشرانو سره دے۔ (معجم اوسط، 342/6، حدیث: 8991)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہ! په دې رساله کښې په بیان کړے شوو حدیثونو مبارکو کښې د حضرت خضر عَلَیۡہِ السَّلَام، د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم او د بزرګانِ دِین رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہِم نه د دې مبارک عمل په فضیلتونو باندې اقوال او واقعات بیان کړے شوي دي او اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہ! د صدو نه د بزرګانِ دِین رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہِم دا معمول پاتې شوے دے څکه دا عمل ضرور د ثواب په نیت سره اوکړئ، ثواب به هم میلاوېږي او د فضیلتونو سره سره به دُنیائي فائدې یعنې د ړندیدو وغیره نه حفاظت هم کیږي۔

## د لاسونو د غټو ګوتو د ښکلولو باوجود که چشمې پهٔ سترګو کوي نو

**وسوسه:** بعضې خلق داسې قِسمه وسوسه اچوي چې وګوره فلانکے د څومره مودې نه د لاسونو غټې ګوتې ښکلوي خو د هغهٔ نظر کمزورے دے او هغه د نظر چشمې لګوي۔

**د وسوسې عِلاج:** د دې وسوسې ډيرې وجهې کيدے شي مثلاً پهٔ حديثونو مبارکو کښې د مختلفو مرضونو او پهٔ مسئلو کښې د ډيرو مخصوصو دعاګانو د لوستلو ترغيب موجود دے که د چا د لوستلو باوجود هُغه مرض يا مسئله حل نهٔ شوه نو پهٔ دې باندې پهٔ هُغه حديثِ پاک باندې هيڅ اثر نهٔ پريوځي بلکې الله پاک کله د خپل بنده اِمتحان هم اخلي چې زما بنده د دې ازميښت باوجود اَوراد او وظيفې لولي يا نهٔ؟ ځکه پهٔ چا باندې د تنقيد کولو پهٔ ځائے د الله پاک رحمت او د هغهٔ د خوږ اخري نبي مکي مَدَني مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ فيضان باندې نظر ساتئ که رَبّ ته منظوره شوه نو ټول مرضونه به ختم شي او که الله پاک امتحان اخلي نو پهٔ دې باندې هم راضي کيدل پکار دي۔

جے سوہنا میرے دُکھ وچ راضی　　تے میں سُکھ نوں چُلھے پاواں

## آيا د لاسونو غټې ګوتې ښکلول فرض دي؟

**وسوسه:** د خوږ مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ نوم مبارک باندې د لاسونو غټو ګوتو ښکلولو ته تاسو فرض او واجب وايئ۔

**جواب:** د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارک نوم د اذان او د اِقامت پهٔ وخت پهٔ اوريدو د لاسونو غټې ګوتې ښکلول او د سترګو سره لګول نهٔ فرض دي، نهٔ واجب او نهٔ سُنَّتِ مؤکده۔ بلکې دا يو مستحب کار دے نو ښهٔ کار نهٔ کوونکي ته به ګنهګار نهٔ وئيلے کيږي۔ د اهلسُنَّت پهٔ نزد دا مسئله ده او پهٔ دې باندې زمونږه دليلونه دي۔ آؤ چې کوم

ګَس چې دا پاک عمل ګناه ګڼي هغه به ضرور ګنهګارېږي ځکه چې کوم څيز ته شريعت ګناه نهٔ ده وئيلې هغې ته چې کوم ګَس ګناه وائي نو هغه به پخپله ګنهګارېږي-

لحد کا خوف کیوں ہو روزِ محشر کا ہو کیا کھٹکا
لیے جاتا ہوں دل پر لکھ کے میں طغرا محمد کا

(قبالۂ بخشش، ص55)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد




فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران پرانی سبزی منڈی کراچی
UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net